# د حضرت هوسیع نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د خُدائ پاک مینه د خپلو خلقو دپاره هیڅکله نۀ ناکامه کیږی. او په هغه دوران کښې چې کله مونږ د حضرت هوسیع نبی د کِتاب تلاوت کوُو نو مونږ له دغه مهمه خبره یاد ساتل پکار دی چې د خُدائ پاک مینه ابدی ده. خُدائ پاک لکه د انسانانو په شان نۀ دے چې د وفادارئ وعده به وکړی او بیا به یې ماته کړی. د بنی اِسرائیلو د بېوفایئ باوجود خُدائ پاک هغوئ سره خپله مینه جاری وساتله او د هغوئ د بحالئ دپاره به یې هغوئ ته لارې سمولې. په شمالی بادشاهئ د اسوریانو د فوج د شکست نه مخکښې حضرت هوسیع نبی آخری پېغمبر وو چې پېشګویانې یې کولې. تر دغه وخته پورې شمالی بادشاهئ ښۀ د امن، خوشحالئ، مالدارئ او کامیابئ زبردسته تجربه کړې وه، خو د دغه خیر خیریت په وخت کښې خلقو د خُدائ پاک فرمانبرداری نۀ کوله بلکې په عېش عشرت اخته وُو. حضرت هوسیع نبی خلقو له خبردارے ورکړو چې خُدائ پاک سره مینه وکړی او د هغوئ منت یې وکړو چې خُدائ پاک سره بیا وفا وکړی. خو اِسرائیل د حضرت هوسیع خبرو ته غوږ ونۀ نیولو نو خُدائ پاک هغۀ ته وفرمائیل چې خپل ژوند د یو داسې مثال په توګه پېش کړه چې خُدائ پاک سره د قوم بېوفائی ترې څرګنده شی چې هغوئ یې د خُدائ پاک سره کوی، او ورسره یې هدایات ورکړل چې یوې بېوفا ښځې سره وادۀ وکړی. د هغۀ حېرانونکے پېغام دا وو چې هغه پخپله یو مقدس او عظیم شخصیت وو خو بیا هم هغۀ د یوې کنجرې او بېوفا ښځې سره وادۀ وکړو. حضرت هوسیع بیا د خُدائ پاک د شکایت چې د اِسرائیل نه وو تشریح وکړه او هغوئ ته یې خبردارے ورکړو چې هغوئ ته به سزا مِلاو شی کۀ چرې هغوئ خُدائ پاک ته راواپس نۀ شول او هغۀ سره وفادار پاتې نۀ شول. په دې کِتاب کښې مونږ د خُدائ پاک لوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غېرت ګورو چې د خپلو خلقو دپاره يې لرى او هغه مينه ګورو چې هيڅ غېرغماز يې نۀ برداشت کوى. ستاسو د حفظ کولو دپاره ۹:۱۴ آيت ”د مالِک خُدائ لارې صحيح دى او صادقان خلق په دې روان وى، خو سرکشه به په دې لارو تيندک وخورى او ويه غورزيږى.“

١ ⑴ مالِک خُدائ دا پيغام د بيرى په زوئ هوسيع باندې په هغه وخت کښې نازل کړو کله چې عُزياه، يوتام، احاز او حزقياه د يهوداه بادشاهان وُو او يربعام د يوآس زوئ د اِسرائيل بادشاه وو.

## د حضرت هوسيع ښځه او بچى

⑵ کله چې مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو سره د هوسيع په ذريعه اول ځل خبرې وکړې،
نو هغۀ هوسيع ته وفرمائيل، ”لاړ شه او زناکارې ښځې سره وادۀ وکړه، او حراميان بچى
پيدا کړه، ځکه چې قوم د مالِک خُدائ فرمانبردارى پرېښې ده او په داسې کولو سره
مسلسل زنا کوى.“ ⑶ نو هوسيع لاړو او جُمر د دِبلائم لور سره يې وادۀ وکړو، هغه
اُميدواره شوه او يو زوئ يې پيدا شو. ⑷ نو مالِک خُدائ هوسيع ته وفرمائيل چې، ”په
هغۀ باندې ”يزرعيل“ نوم کېږده، ځکه چې په لږ وخت کښې به زۀ د ياهُو بادشاه خاندان
له سزا ورکړم، د هغه قتلونو انتقام به ترې نه واخلم کوم چې هغۀ په يزرعيل کښې کړى
دى. او زۀ به د اِسرائيل بادشاهى هم ختمه کړم. ⑸ په هغه ورځ به زۀ د يزرعيل په
وادۍ کښې د اِسرائيل د فوجى لښکرو طاقت ختم کړم.“ ⑹ جُمر يو ځل بيا اُميدواره
شوه او په دې ځل يې يوه لور پيدا شوه. او مالِک خُدائ هوسيع ته وفرمائيل، ”په هغې
باندې ”لورحامه“ يعنې په چا چې رحم نۀ دے شوے نوم کېږده، ځکه چې زۀ به نور په
بنى اِسرائيلو باندې رحم نۀ کوم، او نۀ به زۀ هغوئ معاف کوم. ⑺ خو زۀ به د يهوداه په
خلقو رحم کوم، زۀ به هغوئ د خپلو دشمنانو نه، نۀ په وسلو، او نۀ په لښکرو، نۀ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آسونو او نۀ په جنګی ګاډو، بلکې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک به هغوئ په خپل زور او قدرت سره بچ کړم.“ ٨ کله چې جُمر خپله لور، لورحامه د پيو نه منع کړه، نو هغه بيا اُميدواره شوه او دوېم زوئ يې پېدا شو. ٩ نو مالِک خُدائ هوسيع ته وفرمائيل، ”په هغۀ باندې ”لوعمی“ يعنې زما قوم نۀ دے نوم کېږده، ځکه چې بنی اِسرائيل زما خلق نۀ دی او زۀ د هغوئ خُدائ پاک نۀ يم.“

## د اِسرائيل د مُلک بيا آبادېدل

١٠ خو يو وخت راتلونکے دے چې بنی اِسرائيل به د سمندر د شګو په شان بےشمېره شی او څوک به يې نۀ شمېرلے شی او نۀ به يې څوک ناپ کولے شی. نو بيا په هغه ځائ کښې چرته چې هغوئ ته وئيلے شوی وُو چې، ”تاسو زما خلق نۀ يئ،“ هلته به هغوئ ته ووئيلے شی چې، ”تاسو د ژوندی خُدائ پاک بچی يئ.“ ١١ د يهوداه او اِسرائيل خلق به بيا په يو ځائ راغونډ شی او د ځان دپاره به يو مشر خوښ کړی. او هغوئ به په يو ځائ د جلاوطنۍ نه راواپس شی. نو دا به د يزرعيل دپاره يوه لويه ورځ وی.

٢ ١ هغه وخت په خپلو ورونړو باندې ”عمی“ يعنې ”زما خلق“ او خپلو خوېندو باندې ”رحامه“ يعنې ”چې په چا رحم شوے وی“ نومونه کېږدئ.

## بےوفا جُمر او بےوفا بنی اِسرائيليان

٢ ”خپله مور اِسرائيل ورټئ ځکه چې هغه زما ښځه نۀ ده او زۀ د هغې خاوند نۀ يم. هغې ته ووايئ چې د خپل مخ نه د کنجرتوب پرده لرې کړی او هغه خوشبوئی لرې کړی چې د هغې سينې څرګندوی. ٣ ګنې زۀ به هغه داسې بربنډه کړم لکه څنګه چې د پېدا کېدو په ورځ وه. زۀ به هغه د وچې او شاړې زمکې په شان کړم او د تندې د لاسه به يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووژنم. ۴ زۀ به د هغې په بچو رحم نۀ کوم، ځکه چې هغوئ حرامیان دی. ۵ او د
هغوئ مور زنا کړې ده، د چا نه چې هغوئ پيدا دی هغوئ ډېر د شرم حرکتونه کړی
دی. هغې وئيلی دی چې، "زۀ به په خپلو عاشقانو پسې لاړه شم، ځکه چې هغوئ ما له
خوراک، اوبۀ، وړۍ او د لټې جامې، د زيتُونو تيل او شراب راکوی." ۶ نو زۀ به هغه د
ازغو په باړ کښې راګيره کړم او د هغې په لار کښې به يو ديوال جوړ کړم، چې د هغې نه
خپله لاره ورکه شی. ۷ هغه به په خپلو عاشقانو پسې منډې وهی خو هغه به نۀ شی
وررسېدے. هغه به خپل عاشقان لټوی خو پيدا به يې نۀ کړی. نو بيا به هغه ووائی، "زۀ
خپل خاوند له واپس ورځم. مخکښې زما ژوند د اوس نه ډېر ښۀ وو." ۸ هغې ته پته نۀ
وه چې زۀ هغه ذات يم چا چې هغې له غله، مے، د زيتُونو تيل او هغه ډېر سرۀ زر او
سپين زر ورکړل. خو هغې هغه هر څۀ بعل بُت ته په عبادت کښې پېش کړل. ۹ نو په
دې وجه د لَو په وخت کښې به زۀ د هغې نه خپل د فصل او د انګورو د ميو نعمتونه
واپس واخلم او کومه وړۍ او لټه چې ما ورکړې وه چې بربنډه نۀ شی هغه به ترې
واخلم. ۱۰ زۀ به د هغې د عاشقانو په وړاندې د هغې شرم ښکاره کړم او هيڅوک به يې
زما نه نۀ شی بچ کولے. ۱۱ زۀ به د هغې ټول اخترونه ختم کړم، زۀ به د هغې مياشتنۍ
او د کال او د سبت د ورځې خوشحالۍ ختمې کړم او د هغې نور ټول اخترونه به ختم
کړم. ۱۲ زۀ به د هغې د انګورو بوټی او د اينځرو ونې تباه کړم، هغې به وئيل چې دا هغه
ګټه ده چې ما له خپلو عاشقانو راکړې ده. زۀ به د هغې باغونه په ځنګل بدل کړم او
ځنګلی ځناور به د دې ميوه خوری. ۱۳ زۀ به هغې له د هغه ورځو په وجه سزا ورکړم
کله چې هغې زۀ هېر کړم او بعل ته به يې خوشبويۍ سوزولې او والۍ او کالی به يې
واچول او په خپلو عاشقانو پسې به روانه وه. مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی.

## د مالِک خُدائ د خپل قوم سره مينه

۱۴ خو زۀ به يو ځل بيا هغه رضا کړم. زۀ به هغه صحرا ته بوځم، او هلته به ورسره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوږې خبرې وکړم. ۱۵ هغې له به د انګورو باغونه بیا ورکړم او د مصیبت وادۍ نه به
د اُمید دروازه جوړه کړم. هغه به زما هغه شان خبره منی لکه چې په ځوانۍ کښې یې
منله، چې کله د مِصر نه راووتله. ۱۶ مالِک خُدائ فرمائی، نو په هغه ورځ به ما ته
”خپل خاوند“ ووائې او نور به ما ته ”مالِک بعل“ نۀ وائې. ۱۷ ځکه چې زۀ به د بعل
معبودانو نومونه ستا د خولې نه لرې کړم، او بیا به هیڅکله د هغوئ د نومونو ذکر ستا په
خولۀ نۀ وی. ۱۸ په هغه وخت کښې به زۀ د ټولو ځنګلی ځناورو او د هوا مارغانو سره
او په زمکه ښوئېدونکو ځناورو سره یو لوظ وکړم، نو هغوئ به زما خلقو ته نقصان نۀ
رسوی. زۀ به د هغه مُلک نه د جنګ ټولې وسلې، تُورې او غشی لرې کړم او زما خلق به
په امن او سکون سره ژوند تېروی. ۱۹ زۀ به تا همېشه دپاره خپله ښځه جوړه کړم، او
تا ته به صداقت، اِنصاف، نۀ ختمېدونکې مینه او رحم وښایم. ۲۰ زۀ به په وفادارۍ
سره تا خپله کړم، او بیا به تۀ ما وپېژنې چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۲۱ مالِک خُدائ
فرمائی، په هغه وخت کښې به زۀ د آسمان واورم او وریځې به پېدا کړم، او آسمان به د
زمکې واوری او باران به وۀ وروم. ۲۲ زمکه به د غلې، انګورو او د زیتُونو د ونو واوری
او تنده به یې مړه کړی، او دا ټول څیزونه به د یزرعیل وادۍ ته برکت ورکړی. ۲۳ په
هغه وخت کښې به زۀ د بنی اِسرائیلو یو تخم وکرم او ځان دپاره به یې زرغون کړم. زۀ
به هغه خلقو ته خپل رحم وښایم په چا چې رحم نۀ دے شوے، او کوم خلق چې زما
قوم نۀ وُو هغوئ ته به زۀ خپل قوم ووایم، او هغوئ به راته خُدائ پاک ووائی.“

## حضرت هوسیع او د هغۀ بېوفا ښځه

۳ ۱ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”بیا لاړ شه او خپلې ښځې سره مینه کوه اګر چې
هغه د خپل عاشق سره زنا کوی. تۀ به د هغې سره هغه شان مینه کوې لکه څنګه مینه
چې زۀ د بنی اِسرائیلو سره کوم، اګر چې هغوئ نورو معبودانو ته اوړېدلی دی او بُتانو ته
د کشمشو نذرانې پېش کول خوښوی.“ ۲ نو ما د هغې د مهر دپاره پینځلس د سپینو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زرو سيکې او يو نيم سل کلو اوربشې ورکړې. ۳ ما هغې ته ووئيل چې، ”تهٔ به ډېره
موده زما په کور کښې اوسېږې، او په دې دوران کښې به زنا نهٔ کوې او هيچا سره به
جنسی تعلق نهٔ ساتې، ما سره هم نه.“ ۴ او د بنی اِسرائيلو به هم دغسې حال وی. تر
ډېرې مودې به بادشاهان او آفسران نهٔ لری، نهٔ به قربانئ پېش کوی، نهٔ به يې مقدسې
ستنې وی او نهٔ به يې اِمامان وی، او بُتان به هم ورسره نهٔ وی. ۵ د هغې نه پس به بنی
اِسرائيليان راواپس شی او د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک او د خپل بادشاه داؤد د اولاد
لټون به کوی. په آخری ورځو کښې به هغوئ رېږدېدو سره مالِک خُدائ ته راځی او د
هغهٔ برکتونه به حاصلوی.

## د بنی اِسرائيلو خِلاف د مالِک خُدائ اِلزامونه

۴ ۱ اے بنی اِسرائيلو، د مالِک خُدائ کلام واورئ. مالِک خُدائ د دې مُلک په
اوسېدونکو اِلزام لګوی چې، ”په دې مُلک کښې نهٔ وفا شته او نهٔ په کښې مينه شته او دا
خلق خپل خُدائ پاک نهٔ پېژنی. ۲ ښېرې، دروغ، قتلونه، غلاګانې او زناګانې عام شوې
دی، او د قتلونو يوه سلسله روانه وی. ۳ او په دې وجه مُلک غمژن دے، او د دې
اوسېدونکی به مرګی حال شی. ځنګلی ځناور، مارغان تر دې چې کبان هم مړهٔ کيږی.

## د مالِک خُدائ په اِمامانو اِلزام لګول

۴ هسې چا ته ګوته مهٔ نيسئ او مهٔ په بل چا د اِلزام لګولو کوشش کوئ. اے اِمامانو
زما ګيله ستاسو نه ده. ۵ تاسو په رڼا ورځ تيندکونه خورئ، او ستا پيغمبران هم تاسو
سره د شپې تيندکونه خوری. زهٔ به ستاسو مور يعنې بنی اِسرائيل تباه کړم. ۶ زما
خلق تباه دی ځکه چې هغوئ سره صحيح عِلم نشته. په دې سبب چې تاسو عِلم رد
کړے دے، زهٔ تاسو رد کوم چې تاسو به نور زما اِمامان نهٔ يئ. او لکه چې تاسو د خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک شریعت هېر کړے دے زۀ به هم ستاسو اولاد له د اِمامانو جوړېدو عزت
ورنۀ کړم. ۷ څومره چې اِمامان زياتيږی نو دومره هغوئ زما خِلاف ګناه کوی. زۀ به
د هغوئ عزت په بې‌عزتئ بدل کړم. ۸ هغوئ زما د خلقو د ګناه نذرانې خوری، هغوئ
په دې لالچ کښې وی چې خلق ډېر ګناهونه وکړی. ۹ اِمامانو او خلقو سره به يو شان
سلوک کيږی، زۀ به اوس خلقو او اِمامانو دواړو له د هغوئ د بدو عملونو سزا ورکوم.
۱۰ هغوئ به خوراک کوی خو بيا به هم اوږی وی. هغوئ به لکه د هغه کنجرو په شان
وی خو د دې نه به ورته هيڅ نۀ حاصليږی، ځکه چې هغوئ مالِک خُدائ پرېښے دے او
نورو معبودانو ته اوړېدلی دی.

## د بنی اِسرائيلو بُت پرستی

۱۱ مے کۀ زاړۀ وی او کۀ نوی وی نو دا دواړه زما د خلقو عقل خرابوی. ۱۲ هغوئ
خپلو د لرګی بُتانو سره مشوره کوی، د هغوئ خيال دا وی چې د هغوئ امسا هغوئ ته د
راتلونکی وخت حال وئيلے شی. د هغوئ د بُت پرستئ شوق هغوئ لکه د زناکاره ښځې
په غلطه لار روان کړی دی. هغوئ زنا کړې ده چې خپل خُدائ پاک يې پرېښے دے.
۱۳ د غرونو دپاسه هغوئ قربانئ پېش کوی او هغوئ په غرونو د څېړی، چِنار او يا بل
کوم بوټی لاندې ځکه خوشبوئ سوزوی چې د دې سورے ډېر ښائسته وی. نو په نتيجه
کښې ستاسو د لوڼو نه به کنجرې جوړې شی او ستاسو اِنږوريانې به زنا شروع کړی.
۱۴ زۀ به ستاسو لوڼو له سزا نۀ ورکوم کله چې هغوئ کنجرتوب شروع کوی او نۀ به
ستاسو اِنږوريانو له سزا ورکوم کله چې هغوئ زنا کوی. ځکه چې بنی اِسرائيليان سړی
پخپله د کنجرو سره عياشی کوی کله چې هغوئ قربانئ پېش کوی. چا رښتيا وئيلې دی
چې، ”څوک چې عقل نۀ لری نو هغه تباه شی.“ ۱۵ اے بنی اِسرائيله، اګر چې تۀ زنا
کوې، خو يهوداه دې داسې ګناه نۀ کوی. په جِلجال يا په بيت‌آون کښې عبادت مۀ کوه
او نۀ چې هلته د ژوندی مالِک خُدائ په نوم قسم وخورئ. ۱۶ د ضدی سخی په شان
بنی اِسرائيل ضدی دے. نو بيا مالِک خُدائ څنګه هغه د ځران په لوئ ميدان کښې لکه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو ګډوری په شان وڅروی؟ ۱۷ بنی اِسرائیل خپل ځان بُتانو ته حواله کړے دے، هغه
پرېږدئ. ۱۸ کله چې هغوئ بنسهٔ ډېر شراب وڅښی نو هغوئ د کنجرو سره په عېش
عشرت کښې ډوب شی او د عزت په ځائ بې‌عزتی خوښه کړی. ۱۹ هغوئ به داسې
ورک شی لکه چې هوا یې یوسی او هغوئ به د خپلو قربانو په وجه په شرم وشرمیږی.“

۵ ۱ ”اے اِمامانو، دې ته غوږ ونیسئ. اے بنی اِسرائیلو واورئ، اے د شاهی خاندان
خلقو توجو وکړئ. عدالت ستاسو خلاف فیصله کړې ده. ځکه چې تاسو د خلقو دپاره
دام جوړ شوئ چې په مصفاه او تبور کښې مو د بُتانو عبادت کړے دے. ۲ او په
شِطیم کښې تاسو ژوره کنده کنستې ده، خو زهٔ به تاسو ټولو له سزا درکوم. ۳ زهٔ بنی
اِسرائیل ډېر بنسهٔ پېژنم، د دې بدی زما نه پټه نهٔ ده. بنی اِسرائیلو کنجرتوب کړے دے چې
زهٔ یې پرېښے یم او هغه ناپاکه دے.“

## د هوسیع د بُت پرستئ خِلاف خبردارے ورکول

۴ د خلقو بد عملونه هغوئ ته دا اجازت نهٔ ورکوی چې خپل خُدائ پاک ته واپس
راوګرځی. ځکه چې د زنا عادت هغوئ په خپل قابو کښې اخستی دی او هغوئ مالِک
خُدائ نهٔ پېژنی. ۵ د بنی اِسرائیلو غرور د هغوئ خِلاف ګواهی ورکوی. هغوئ به د
خپلې ګناه په وجه راوغورزیږی او د یهوداه خلق به هم ورسره راوغورزیږی. ۶ کله
چې هغوئ خپلو رَمو او خاروو سره د مالِک خُدائ لټون له راځی، نو هغوئ به یې پېدا نهٔ
کړے شی ځکه چې هغهٔ دوئ پرېښی دی. ۷ هغوئ د مالِک خُدائ سره بې‌وفائی کړې
ده، او حرامیان بچی یې پېدا کړی دی. نو اوس به نوې میاشت هغوئ سره د جائیداد
لواړ تېر کړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِسرائيل او يهوداه په مينځ کښې جنګ

۸ په جبعه کښې د جنګ دپاره بيګلې وغږوئ. په راما کښې د خبردارۍ دپاره آواز
وکړئ. په بيت‌آون کښې جنګی نعره ووهئ. اے بنيامينيانو، تاسو مخکښې شئ مونږ
درپسې يُو. ۹ د عدالت ورځ راروانه ده او د اِسرائيل مُلک به تباه شی. اے بنی
اِسرائيلو، زۀ دا اعلان کوم چې داسې به ضرور کيږی. ۱۰ مالِک خُدائ فرمائی، ”د
يهوداه آفسران داسې دی څوک چې د زمکې حدود زياتولو دپاره پولې بې‌ځايه کوی. نو
زۀ به خپله غصه په هغوئ باندې لکه د سېلاب په شان نازله کړم. ۱۱ په اِسرائيل به ظلم
وشی او زما د فېصلې لاندې به چخنی شی، ځکه چې هغۀ به په شوق د بې‌کاره بُتانو
عبادت کولو. ۱۲ زۀ به اِسرائيل داسې تباه کړم لکه چې چينجے ورۍ خوری. او يهوداه
به لکه د سخا ډېر لرګی په شان کمزورے کړم. ۱۳ کله چې اِسرائيل خپله بيماری او
يهوداه خپل زخمونه وليدل، نو اِسرائيل لاړل چې د اسور د لوئ بادشاه نه مدد وغواړی،
خو هغۀ نۀ دوئ ته شفا ورکولے شوه او نۀ يې د دوئ د زخمونو علاج کولے شو. ۱۴
زۀ به په اِسرائيل باندې لکه د ازمری په شان او په يهوداه باندې لکه د تکړه ازمری په
شان حمله وکړم. زۀ به په خپله هغوئ ټوکرې ټوکرې کړم، زۀ به هغوئ راکاږم او هيڅ
څوک به يې رانه خلاصولے نۀ شی. ۱۵ زۀ به بيا خپل ځائ ته راواپس شم، ترڅو چې
هغوئ خپله ملامتيا ومنی او ما ته راوګرځی. او چې کله په هغوئ مصيبت راشی نو
هغوئ به زما سخت تلاش شروع کړی.“

## توبه ويستل

۶ ۱ ”راځئ، چې مالِک خُدائ ته راوګرځُو. هغۀ مونږ تيکه تيکه کړی يُو، خو اوس به
هغه مونږ له شفا راکوی. هغۀ مونږ زخمی کړی يُو، خو اوس به هغه زمونږ د زخمونو
مرهم پټۍ کوی. ۲ په ډېر لږ وخت کښې به هغه مونږ بحال کړی او په لږ وخت کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به شفا راکړی او داسې به مونږ د هغهٔ په حضور کښې ژوند تېروو. ۳ راځئ چې هغه
وپېژنو، راځئ چې پوره کوشش وکړو چې مالِک خُدائ ښهٔ وپېژنو. هغه به يقيناً مونږ له
داسې راځی لکه څنګه چې هر سحر نمر راخېژی، لکه څنګه چې د ژمې باران ورېږی،
لکه څنګه چې د سپرلی باران زمکه اوبهٔ کوی.“ ۴ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے اِسرائيله
او يهوداه، زهٔ تاسو سره څهٔ وکړم؟ ستاسو مينه ما سره لکه د سحر د دوند په شان زر
ختمه شی او لکه د سحر د پرخې په شان زر والوځی. ۵ نو دا ځکه ما د خپلو
پېغمبرانو په لاس تاسو ټوټې ټوټې کړئ، او د خپلې خولې په کلام مې تاسو ووژلئ. زما د
اِنصاف رڼا لکه د نمر راخېژی. ۶ زهٔ غواړم چې تاسو وفاداری وښايئ نه چې قربانی
وکړئ. ستاسو د سوزېدونکو نذرانو نه زيات زهٔ غواړم چې تاسو ما وپېژنئ. ۷ خو په
آدم نومې ښار کښې تاسو لوظ مات کړو او هلته مو ما سره بې‌وفائی وکړه. ۸ جِلعاد
ښار د بدعملو نه ډک دے، هر طرف ته د وينې داغونه دی. ۹ اِمامان د ډاکوانو د هغه
قبيلې په شان دی چې هغوئ د چا د لوټ کولو دپاره غلی ناست وی. هغوئ د شِکم په
لاره باندې قتلونه کوی، او هر قسم ګناه کوی. ۱۰ ما په اِسرائيلو کښې ډېر بد کارونه
ليدلی دی. زما خلقو د بُتانو د عبادت په وجه خپل ځانونه ناپاکه کړی دی چې زناکاری
ده. ۱۱ اے د يهوداه خلقو، ما ستاسو د سزا وخت هم مقرر کړے دے، اګر چې ما
غوښتل چې هغوئ بحال کړم.“

۷ ۱ ”کله چې زهٔ اِسرائيلو له شفا ورکول غواړم نو د دوئ ګناه راته څرګنده شی او
د سامريه بدکاری راته ښکاره شی. ځکه چې هغوئ د چل کارونه کوی، غلهٔ کورونو ته
وراوړی او غلاګانې کوی، او ډاکوان په لارو کښې خلق لوټ کوی. ۲ هغوئ د دې نه
ناخبره دی چې ما ته د هغوئ ټول بد عملونه ياد دی. د هغوئ ګناهونه په هر ځائ کښې
څرګند دی، دا ټول ما ته ښکاری.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په محل کښې سازش جوړېدل

۳ هغوئ په خپلو بدو منصوبو بادشاه خوشحالوی، او په دروغو وئیلو باندې آفسران
خوشحالوی. ۴ هغوئ ټول زناکاران دی. هغوئ لکه د سور کړے شوی تنور په شان
دی چې دومره ګرم وی چې د نانبائی د لاس وروړو ضرورت ورته نۀ وی. کۀ هغه اوړۀ
واغږی او هغه خمبیره شی نو بیا هم تنور دومره ګرم وی چې روټئ به پرې پخې شی.
۵ په شاهی جشن کښې آفسران په میو ځان نشه کړی، او مسخره کوونکو له لاس
ورکوی. ۶ د هغوئ زړونه لکه د تنور په شان د خپلو بدو منصوبو په وجه سوزی. د
هغوئ غصه ټوله شپه بېلمبو سوزی او په سحر کښې لکه د اور لمبې وکړی. ۷ هغوئ
ټول لکه د تنور لمبه دی او خپل حکمرانان لواړ تېروی. د هغوئ ټول بادشاهان راپرېوتل،
خو یو هم ما ته دُعا نۀ کوی.

## بنی اِسرائیل او نور قومونه

۸ بنی اِسرائیل خپل ځان لکه د اوړو په شان نورو قومونو سره اغږلے دے. بنی
اِسرائیل لکه د هغه روټئ په شان دے چې صرف یو مخ یې پوخ شوے وی. ۹ د پردی
مُلک خلق د هغۀ طاقت خوری خو هغۀ ته د دې پته نشته، د هغۀ سر د سپینو وېښتو نه
ډک دے خو هغۀ ته د دې پته نشته. ۱۰ د بنی اِسرائیل غرور د هغۀ خِلاف ګواهی
ورکوی، خو بیا هم هغوئ مالِک خُدائ پاک ته نۀ راګرځی. د دې هر څۀ
باوجود هغوئ د هغۀ د لټون نه اِنکار کوی. ۱۱ بنی اِسرائیل د کم عقلې ګوګوشتکې په
شان دی چې په آسانه دوکه کیږی. اول یې مِصر د مدد دپاره راوغوښتو او بیا یې د پناه
دپاره اسور ته ورمنډه کړه. ۱۲ خو چې کله هغوئ الوځی رالوځی نو زۀ به پرې خپل
جال ورلړه کړم او د هوا د مارغانو په شان به یې ښکته راکوز کړم. د هغوئ د بدعملۍ په
وجه به زۀ سزا ورکړم. ۱۳ په هغوئ افسوس، ځکه چې هغوئ زما نه تښتېدلی دی.
هغوئ تباه دی، ځکه چې هغوئ زما خِلاف سرکشی کړې ده. ما غوښتل چې هغوئ بچ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم، خو هغوئ زما خلاف دروغ وئیلی دی. ﴿۱۴﴾ هغوئ د زړهٔ د اخلاصه ما ته سوال نهٔ
دے کړے، خو هغوئ د پرېشانئ نه په خپلو کټونو کښې ژړاګانې کوی. هغوئ د غلې يا د
مېو حاصلولو دپاره معبودانو ته خپل ځانونه غوڅوی، خو هغوئ زما خلاف بغاوت
کوی. ﴿۱۵﴾ اګر چې هم ما د هغوئ تربيت وکړو او مضبوط مې کړل، خو هغوئ زما
خِلاف بدې منصوبې جوړوی. ﴿۱۶﴾ هغوئ د خُدائ تعالىٰ نه بغېر هر خوا ګوری. هغوئ د
کږې لیندې په شان نا اعتباره دی. د هغوئ آفسران به د خپلې سپکې خولې د لاسه په
تُوره مړهٔ شی او مِصريان به په هغوئ پورې خندا کوی.“

## د بُت پرستئ په وجه مالِک خُدائ بنی اِسرائيل رد کړل

۸ ﴿۱﴾ ”د خبردارئ دپاره بيګل وغږوئ. دشمنان د تپوس په شان د مالِک خُدائ په
کور راغوټه کيږی، ځکه چې هغوئ ما سره لوظ مات کړے دے او زما د شريعت
خِلافورزی يې کړې ده. ﴿۲﴾ اوس بنی اِسرائيل ما ته مِنت زاری کوی چې، زمونږ مدد
وکړه ځکه چې تهٔ زمونږ خُدائ پاک يې. ﴿۳﴾ خو بنی اِسرائيلو هغه څهٔ رد کړی دی څهٔ
چې ښهٔ دی، نو دشمن به هغهٔ پسې وی. ﴿۴﴾ هغوئ زما د اجازت نه بغېر بادشاهان جوړ
کړل، هغوئ زما د رضا نه بغېر مشران مقرر کړل. هغوئ د خپلو سرو زرو او سپينو زرو
نه بُتان جوړ کړی دی او په ځان يې پخپله تباهی راوستې ده. ﴿۵﴾ اے سامريې. ما ستا
دا سخے بُت رد کړے دے. زما غصه ستا خلاف ده، تاسو د صفا کېدو قابل نهٔ يئ
ترڅو پورې به ستاسو دا حالت جاری وی؟ ﴿۶﴾ اے بنی اِسرائيله، تهٔ چې د کوم بُت
عبادت کوې دا يو کسبګر جوړ کړے دے، دا خُدائ پاک نهٔ دے. په سامريه کښې
سخے بُت به ټوټې ټوټې شی. ﴿۷﴾ هغوئ د هوا تخم کَری، او د طوفان فصل به ريبی. د
غلې فصل ولاړ دے خو وَږی په کښې نهٔ ښکاری نو د خوراک مِلاوېدو په کښې څهٔ
امکان نشته. خو کهٔ څهٔ غله په کښې وی هم، نو د پردی مُلک خلق به يې وخوری. ﴿۸﴾
بنی اِسرائيل لواړ تېر کړے شوی دی. اوس هغوئ په نورو قومونو کښې خوارهٔ شوی دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د بېکاره لوښی په شان پراتهٔ دی. ۹ هغوئ اسوریانو له د مدد دپاره تلی دی، لکه
څنګه چې يوې ځنګلی خرې وار راوړے وی. دغسې بنی اِسرائيل لکه د کنجرې خپل
ځان په عاشقانو خرڅ کړے دے. ۱۰ اګر چې دوئ خپل ځان په ډېرو قومونو خرڅ
کړے دے، خو اوس به زهٔ هغوئ يو ځائ ته راغونډ کړم او سزا به ورکړم. د هغوئ
بادشاه او شهزادګان به زر د جزيې لاندې په لړزان شی. ۱۱ اګر چې بنی اِسرائيل د ګناه
د لرې کولو دپاره ډېرې قربان‌ګاه جوړې کړې دی، خو هم دغه قربان‌ګاه د هغوئ دپاره
د ګناه ځايونه شول. ۱۲ اګر چې ما هغوئ دپاره خپل شريعت ډېر تشريح کړو، خو
هغوئ ځان داسې ناغرضه کړو لکه چې دا شريعت هېڅ د هغوئ دپاره نهٔ وی. ۱۳
هغوئ ما ته قربانئ پېش کوی او د قربانئ غوښې خوری. خو زهٔ، مالِک خُدائ د هغوئ
نه رضا نهٔ يم، ما ته به د هغوئ ګناهونه ياد وی او سزا به ورته ورکړم، او هغوئ به مِصر
ته واپس ځی. ۱۴ بنی اِسرائيلو خپل خالِق هېر کړے دے او شاهی محلونه يې جوړ
کړی دی، او يهوداه د پَخو دېوالونو ډېر ښارونه جوړ کړی دی. خو زهٔ به د هغوئ په
ښارونو اور نازل کړم او هغه به د هغوئ محلونه وسوزوی.“

## د حضرت هوسيع د بنی اِسرائيلو د سزا اعلان کول

۹ ۱ اے بنی اِسرائيلو، د نورو قومونو په شان خوشحالی مهٔ کوئ. تاسو د خپل
خُدائ پاک نه اوړېدلی يئ او د هغهٔ سره مو بې‌وفائی کړې ده. تاسو خپل ځانونه لکه د
کنجرو په شان خرڅوئ او په هر درمند کښې د نورو معبودانو عبادت کوئ. ۲ خو
اوس به ستاسو د خوراک دپاره غله کافی نهٔ وی او نهٔ به درسره دومره انګور وی چې
مے ترينه وباسئ. ۳ بنی اِسرائيليان به د مالِک خُدائ په مُلک کښې نهٔ پاتې کيږی،
بلکې هغوئ به مِصر ته واپس ځی او د اسور په مُلک کښې به حرام څيزونه خوری. ۴
هغوئ به مالِک خُدائ ته نهٔ د ميو نذرانې وړاندې کړے شی او نهٔ به يې په قربانيانو رضا
کړے شی. د هغوئ د نذرانو روټئ به د ماتم کوونکو د روټئ په شان وی يعنې څوک هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دغه روټۍ خوري نو هغه به ناپاک شي. په دې به هغوئ صرف خپله لوږه ختموي، خو د مالِک خُدائ کور ته به د نذرانې په توګه نۀ شي وړلے. ۵ تاسو به د اختر په ورځ څۀ کوئ، د مالِک خُدائ اختر به څنګه کوئ؟ ۶ ګورئ کۀ هغوئ د تباهۍ نه وتښتي هم، نو مِصر به هغوئ رايوځائ کړي، او ميمفِس به يې ښخ کړي. د هغوئ د سپينو زرو خزانې به په لوخو کښې ورکې شي، او د هغوئ په کورونو کښې به د ازغو بوټي راوټوکيږي. ۷ نو د سزا وخت راغلے دے، د حساب کِتاب وخت رارسيدلے دے. بنى اِسرائيل دې ځان پوهه کړي. تاسو وايئ چې، ”دا پېغمبر کم عقل دے. دا د روح والا بنده پاګل دے.“ نو ځکه څومره چې ستاسو ګناه غټه ده نو دومره ستاسو نفرت هم زيات دے. ۸ پېغمبر د خُدائ پاک د طرف نه د بنى اِسرائيل محافظ دے. خو چې چرته هم هغه ځى نو هلته د هغۀ د راګيرولو دپاره دام خور وى، بلکې د خُدائ پاک په کور کښې هم د هغۀ نه نفرت کيږى. ۹ هغوئ په خپله بدعملۍ کښې دومره ککړ شوى دى لکه چې هغوئ ډېره موده مخکښې په جبعه کښې په بدعملۍ کښې ککړ شوى وُو. خُدائ پاک ته به د هغوئ ګناهونه ياد وى او سزا به ورته ورکړي.

## د بنى اِسرائيلو ګناه او د هغې سزا

۱۰ مالِک خُدائ فرمائى، ”کله چې ما اول ځل بنى اِسرائيل وليدل، نو دا داسې وُو لکه چې په صحرا کښې انګور ومومى. ما ستاسو پلار نيکۀ داسې وليدل لکه چې د موسم وړومبى پاخۀ شوى اينځر مې ليدلى وى. خو کله چې هغوئ د فعور غرۀ ته راغلل، نو هلته هغوئ خپل ځانونه شرمناک بعل بُت ته وقف کړل. نو داسې چې هغوئ څۀ سره مينه وکړه نو د هغې په شان پليت شول. ۱۱ د بنى اِسرائيل شان او شوکت به د مارغۀ په شان والوځى او د هغوئ به نور بچى نۀ پيدا کيږى او نۀ به يې ښځې اُميدواره کيږى او نۀ به يې اولاد په خېټه کيږى. ۱۲ خو کۀ د هغوئ بچى پيدا هم شى، نو زۀ به يې ترې نه واخلم او يو به هم ژوندے پرې نۀ ږدم. په هغوئ افسوس، ځکه چې هغوئ به زۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږدم.“ ۱۳ ما وکتل چې بنی اِسرائيل د صور په شان ښائسته شول. خو اوس به بنی
اِسرائيل خپل اولاد حلالولو دپاره رابهر کړی. ۱۴ اے مالِکه خُدايه، زهٔ ستا نه د دې
خلقو دپاره څهٔ سوال وکړم؟ د هغوئ ښځې شنډې کړه. او د هغوئ په سينو کښې پئ
اوچ کړه.

## د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو عدالت کول

۱۵ مالِک خُدائ فرمائی، ”د هغوئ ټول بد عملونه په جِلجال کښې شروع شول. نو هلته
مې د هغوئ نه نفرت شروع کړو او د هغوئ د بدعملۍ په وجه به زهٔ هغوئ د خپل مُلک
نه وشړم. زهٔ به د هغوئ سره نوره مينه نهٔ کوم، د هغوئ ټول آفسران سرکشه دی. ۱۶
بنی اِسرائيل وهلے شوی دی، د هغوئ جرړې اوچې شوې دی او هيڅ مېوه به نهٔ نيسی.
خو کهٔ د هغوئ بچی پيدا هم شی، نو زهٔ به د هغوئ ګران اولاد ووژنم.“

## د پيغمبر بنی اِسرائيلو له خبردارے ورکول

۱۷ زما خُدائ پاک به هغوئ رد کړی، ځکه چې هغوئ ورته غوږ نهٔ نيولو او هغوئ به په
قومونو کښې در په در ګرځی.

۱۰ ۱ بنی اِسرائيل د انګورو زرخيزه بوټے وو چې ښهٔ کافی مېوه به يې نيوله. خو
څومره چې يې مېوه زياتېده نو دومره ډېرې به يې د بُتانو قربانګاه جوړولې. څومره چې
د هغوئ مُلک ترقی کوله نو دومره يې د بُتانو مخصوص ستنې ښائسته کولې. ۲ د چا
زړونه چې د دوکې نه ډک دی نو هغوئ ته خو به د خپلو ګناهونو سزا ملاوېږی. خُدائ
پاک به د هغوئ قربانګاه ورانې کړی او د هغوئ مقدسې ستنې به ټوټې ټوټې کړی. ۳
نو خلق به ډېر زر دا خبره وکړی چې، ”زمونږ بادشاه ځکه نشته چې مونږ د مالِک خُدائ
نه نهٔ يرېدو. خو کهٔ بادشاه وے هم، نو هغهٔ زمونږ دپاره څهٔ کولے شول؟“ ۴ هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لافې کوی، د دروغو قسمونه خوری او تشې وعدې کوی. د هغوئ اِنصاف د هغه زهرژن
بوټو په شان دے چې د تخم دپاره تيار پټی کښې پخپله رازرغون شی. ۵ د سامريه
ښار اوسېدونکی د يرې نه رېږدی چې په بيت‌آون کښې به د سخی بُت سره څۀ کيږی. د
دې خلق به د دې دپاره ژړا کوی، او د دې اِمامان به د دې شان او شوکت يادوی او
ماتم به کوی، ځکه چې دا به د دوئ نه بل مُلک ته يوړلے شی. ۶ هغه بُت به اسور ته
يوړلے شی چې عظيم بادشاه ته په محصُول کښې پيش کړے شی. بنی اِسرائيل به
بې‌عزته شی او ويه شرميږی ځکه چې هغوئ په دې بُت باندې يقين کولو. ۷ سامريه او
د هغې بادشاه به داسې يوړلے شی لکه چې د اوبو دپاسه د لرګی يوه ټوکړه وی. ۸ د
آون علاقائی عبادتخانې به تباه شی چرته چې بنی اِسرائيلو ګناه کوله. د هغوئ په
قربان‌ګاهو باندې به واښۀ او ازغی راشنۀ شی. نو خلق به غرونو ته چغې وهی چې،
”مونږ پټ کړه.“ او غونډو ته به چغې وهی چې، ”په مونږ راپرېوځه.“

## د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو سره د عدالت اعلان کول

۹ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے بنی اِسرائيله، د هغه وخت نه چې تا په جبعه کښې ګناه
کوله تر اوسه پورې هم هغه شان ګناه کوې. نو ولې دا مناسبه نۀ وه چې په دغه بدعملو
په جبعه کښې جنګ راغلو؟ ۱۰ نو اوس چې کله زما مرضی وی زۀ به تاسو له سزا
درکړم. قومونه به ستاسو خِلاف راجمع شی کله چې تاسو ته ستاسو د ګناهونو سزا دوه
چنده مِلاو شی. ۱۱ اِسرائيل يو تربيت يافته سخے دے او ښۀ په شوق غنم غوبل کوی.
خو بيا ما په خپله د دې په ښائسته څټ د سخت محنت دپاره جغ کېښودو. ما يهوداه
يوې کولو ته جوړ کړے دے او اِسرائيل به دا په خپله ماله کړی. ۱۲ ما ورته ووئيل
چې، د صداقت ښۀ تخم وکَره نو د مينې فصل به ورېبې. د خپلو زړونو سخته زمکه يوه
وکړئ ځکه چې اوس د مالِک خُدائ د لټون وخت دے چې هغه راشی او په تاسو د
صداقت باران ووَروی. ۱۳ خو تا بدعملی وکَرله او د بې‌اِنصافۍ فصل دې ورېبلو. تا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوکې مېوه خوړلې ده. ځکه چې تا په خپلو جنګی ګاډو او په خپلو بې‌شمېره فوجيانو
اعتبار کولو. ۱۴ نو ځکه به ستا په خلقو جنګ راشی او ستاسو ټولې قلعې به تباه شی.
دا به هم هغه شان وی لکه څنګه چې شلمن بادشاه بيت‌اربيل په جنګ کښې تباه کړو او
مېندې يې سره د هغوئ د بچو زمکې له راوويشتلې. ۱۵ نو اے د بيت‌ايل خلقو، تاسو
سره به هم داسې کار کيږی، ځکه چې ستاسو بدعملی د حد نه زياته ده. څنګه چې د
عدالت ورځ شروع شی، نو د اِسرائيل بادشاه به تباه او برباد شی.“

## د خُدائ پاک د خپلو سرکشه خلقو سره مينه

۱۱ ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”کله چې بنی اِسرائيل د وړوکی ماشوم په شان وو، نو
مينه مې ورسره کوله، او ما خپل زوئ د مِصر نه راوبللو. ۲ خو چې څومره ما ورته
آوازونه کول، نو هغه هومره زما نه لرې کېدو. زما خلقو د بعل بُتانو ته قربانۍ پېش کړې،
او بُتانو ته يې خوشبويۍ سوزولې. ۳ ما پخپله بنی اِسرائيل ته د ګرځېدو چل وښودلو،
ما د هغۀ لاس نيولے وو او د هغۀ رهنمائی مې کوله، خو هغۀ ته پته نۀ لګېده او نۀ يې
پرواه ساتله چې هغه زۀ وم چې د هغۀ خيال مې ساتلو. ۴ ما بنی اِسرائيل د خپلې مينې
او رحم رسۍ سره ځان ته رانزدې کړو. ما د هغۀ د څټ نه جغ اوچت کړو، او زۀ په
خپله ورټيټ شوم او خوراک مې ورکړو. ۵ خو هغوئ به مِصر ته واپس شی او د
اسور بادشاه به په هغوئ حکومت کوی، ځکه چې هغوئ ما ته د راګرځېدو نه اِنکار
کړے دے. ۶ د هغوئ په ښارونو کښې به جنګ کوی او د ښار دروازې به يې ماتې
کړی. هغوئ به د خپلو غلطو منصوبو له وجې تباه کړی. ۷ زما خلقو کلکه فېصله
کړې ده چې ما پرېږدی. هغوئ په خولۀ خو ما ته حق تعالیٰ وائی خو زۀ به هغوئ بچ نۀ
کړم. ۸ اے بنی اِسرائيله، زۀ تا څنګه پرېښودے شم؟ زۀ تا څنګه دشمن ته حواله
کولے شم؟ زۀ تا څنګه لکه د ادمه نورو ته حواله کولے شم؟ يا دې د ضبوئيم په شان
څنګه تباه کولے شم؟ زما اراده سراسر بدله شوه. ځکه چې زما بې‌مثاله مينه ستا دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوچته شوه. ۹ زۀ به تا له په غصه کښې سزا نۀ درکوم، زۀ به بنی اِسرائیل بیا نۀ تباه
کوم. ځکه چې زۀ بنی آدم نۀ یم بلکې خُدائ پاک یم. زۀ مقدس ذات یم او ستاسو په
مینځ کښې استوګنه کوم. زۀ به بیا په غضب کښې نۀ راځم. ۱۰ کله چې زۀ د خپلو
خلقو په دشمنانو د ازمری په شان وغورېږم نو زما خلق به په ما پسې راروان شی.
هغوئ به د نمرپرېواتۀ طرف نه په منډه منډه راشی. ۱۱ هغوئ به په یرې او رېږدېدو
سره د مارغانو په شان د مِصر نه راشی او د اسور نه به د ګوګوشتکو په شان واپس
راشی. زۀ به هغوئ خپلو کورونو ته واپس راولم. ما، مالِک خُدائ دا فرمائیلی دی.

## د اِسرائیل او د یهوداه د خلقو بدی بیانېدل

۱۲ اِسرائیل زۀ په دروغو سره رانیولے یم، او دوکې سره یې زما محاصره کړې ده. خو
یهوداه تر اوسه پورې د خُدائ پاک فرمانبردار دے، او مقدس ذات سره وفادار دے.

# ۱۲

۱ بنی اِسرائیل چې توله ورځ هر کار هم کوی نو هغه بېفائدې وی. دوکه او ظلم
زیاتے په هغوئ کښې زیاتېږی. د اسور سره د معاهدې باوجود خو بیا هم مِصر ته د
زیتُونو تېل لېږی.“ ۲ مالِک خُدائ به په عدالت کښې یهوداه سره هم جنګېږی. هغه به
بنی اِسرائیل له د هغۀ د عمل په مطابق سزا ورکوی او هغۀ ته به د خپل عمل بدله
ملاویږی. ۳ یعقوب هم د مور په خېټه کښې خپل ورور د پوندې نه ونیوو او کله چې
بالغ شو، نو هغۀ خُدائ پاک سره جګړه وکړه، ۴ هغۀ د یوې فرښتې خِلاف جنګ
وکړو او جنګ یې وګټلو. هغۀ وژړل او د برکت سوال یې وکړو. په بیت‌ایل کښې خُدائ
پاک هغۀ ته څرګند شو او کلام یې ورسره وکړو. ۵ مالِک خُدائ ربُ الافواج، مالِک
خُدائ د هغۀ نوم دے. ۶ نو اوس خپل خُدائ پاک ته راوګرځئ. د هغۀ مینه او اِنصاف
قائم ساتئ او همېشه د هغۀ نه په اُمید کښې اوسئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ بنی اِسرائيل هغه تاجران دی چې په لاس کښې يې د بې‌ايمانۍ تله وی او د دوکې
کولو سره مينه کوی. ۸ بنی اِسرائيل وائی، ”زهٔ ډېر مالداره يم، زهٔ دولتمند شوے يم.
هيڅوک به دا ثابته نهٔ کړی چې په دې ټول مال حال حاصلولو کښې زما نه څهٔ قصور يا
ګناه شوې ده.“ ۹ خو زهٔ، مالِک خُدائ ستاسو هغه خُدائ پاک يم چې چا د مِصر نه
راوويستلئ، زهٔ به يو ځل بيا تاسو د پخوا په شان په خېمو کښې اوسوم لکه چې هر کال
د جونګړو په اختر کښې اوسېږئ. ۱۰ ما د پېغمبرانو سره کلام وکړو او ما پخپله ډېرې
روياګانې ښکاره کړې او د پېغمبرانو په ذريعه مې درته تعبير کړې. ۱۱ خو په جِلعاد
کښې د بُتانو عبادت کيږی او ځوک چې د هغوئ عبادت کوی هغوئ د هيڅ کار نهٔ دی.
او په جِلجال کښې هم هغوئ غوَيان قربانی کوی خو د هغوئ د قربانو د ځايونو نه د کاڼو
ډېری جوړ شوی دی لکه څنګه چې د يوه شوی پټی په غاړه کښې د کاڼو ډېری پراتهٔ وی.
۱۲ يعقوب آرام وطن ته وتښتېدو، هلته هغهٔ د ښځې حاصلولو دپاره خِدمت وکړو، د
هغې په عوض کښې هغهٔ ګډې څرولې. ۱۳ خو بيا مالِک خُدائ د يو پېغمبر په وسيله
بنی اِسرائيل د مِصر نه رابهر کړل او د يو پېغمبر په ذريعه يې د هغهٔ خيال وساتلو. ۱۴
خو بنی اِسرائيل مالِک خُدائ سخت غصه کړے دے، هغهٔ چې کومه وينه تويه کړې ده
اوس به ورسره د هغې حساب کيږی، هغهٔ چې د مالِک خُدائ توهين کړے دے د هغې
مناسبه سزا به ورکوی.

## د بنی اِسرائيلو سره آخری عدالت کېدل

۱۳ ۱ ستاسو مشرانو به چې کله هم خبرې کولې نو ټول اِسرائيليان به ريږدېدل، کهٔ
څهٔ هم چې دوئ اهم خلق وُو بلکې بعل ته په عبادت کولو سره يې ګناه وکړه او په دې
کولو سره هغوئ خپله تباهی يقينی کړه. ۲ اوس هغوئ ګناه کولو کښې اضافه کوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپلو ځانونو دپاره د سپينو زرو نه بُتان جوړوى. بيا چې انسان د خپلو لاسونو
مهارت سره کوم بُتان جوړ کړى وُو نو هم هغه بُتانو ته وائى چې، ”دې ته قربانۍ پېش
کړئ. او دا د سخى بُت ښکل کړئ.“ ۳ نو ځکه دا خلق به د سحر د دُهند په شان
عارضى وى او د سحر په نمر کښې د زر ختمېدونکې پرخې په شان وى. هغوئ به د هغه
بوسو په شان وى چې هوا يې د درمند نه وړى، هغوئ به د انګيټۍ د لوګى په شان وى.
۴ خو زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم، چا چې تاسو د مِصر نه راوويستلئ.
زما نه بغېر بل خُدائ مۀ منئ ځکه چې زما نه بغېر بل خلاصونکے نشته. ۵ ما په
صحرا کښې ستاسو خيال ساتلے دے په هغه اوچ بيابان کښې چرته چې هيڅ اوبۀ نۀ
وې. ۶ خو کله چې تاسو په خېټه ښۀ ماړۀ شوئ نو تاسو مغروره شوئ او زۀ مو هېر
کړم. ۷ نو زۀ به اوس په تاسو باندې لکه د ازمرى په شان حمله وکړم. د پړانګ په
شان به زۀ تاسو ته په لار کښې پټ ناست يم. ۸ زۀ به په تاسو باندې لکه د هغه مېلو په
شان حمله وکړم چې بچى ترېنه پټ کړے شوى وى او ستاسو سينه به وشلوم. لکه د
ازمرى به مو لواړ تېر کړم او لکه د يو ځنګلى ځناور به مو ټوټې ټوټې کړم. ۹ اے بنى
اِسرائيله، زۀ تاسو تباه کوم، ځکه چې تاسو زما خلاف يئ، نو څوک به ستاسو مدد
کوى؟ ۱۰ اوس ستا بادشاه چرته دے چې هغه ستا ټولو ښارونو ته راشى او تا بچ
کړى؟ او ستا هغه مشران چرته دى چې تا به غوښتل، او وئيل به دې چې ما له بادشاه او
آفسران راکړه. ۱۱ ما په خپله غصه کښې تاسو له بادشاهان درکړى دى او په قهر کښې
مې درنه اخستى دى. ۱۲ د بنى اِسرائيلو ګناهونه او جرمونه ليکلے شوى دى او د
حساب دپاره دا محفوظ پراتۀ دى. ۱۳ د ماشوم د پېدا کېدو درد شروع شوے دے خو
هغه ماشوم ناپوهه دے، او نۀ غواړى چې د مور د خېټې نه راوځى. ۱۴ زۀ ولې فديه
ورکړم او هغوئ د عالِمِ ارواح نه آزاد کړم؟ زۀ هغوئ د مرګ د پنجې نه ولې خلاص
کړم؟ اے مرګه، ستا د طاقت هغه لشه څۀ شوه؟ اے عالمِ ارواح ستا بربادى څۀ شوه؟
هغې نه کار واخله ځکه چې زۀ به رحم نۀ کوم. ۱۵ کۀ څۀ هم بنى اِسرائيل د لوخو د
پاټو په شان راشنۀ کېږى، نو زۀ به نمرخاتۀ طرف نه يوه ګرمه هوا راولېږم او هغه هوا به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوئ کوهی او چينې اوچې کړی. دا به د ځان سره ټول قيمتی خيزونه يوسی. ۱۶
سامريه به د خپل قصور سزا برداشت کوی، ځکه چې هغې زما خِلاف سرکشی کړې
ده. د سامريه خلق به په جنګ کښې مړهٔ شی، د هغوئ ماشومان به په زمکه
راوغورزولے شی او د هغوئ د اُميدوارو ښځو خېټې به وخيرلے شی.

## د حضرت هوسيع بنی اِسرائيلو ته مِنت کول

۱۴ ۱ اے بنی اِسرائيله، مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته راوګرځه، ولې چې ستا
ګناهونه ستا د راغورزېدو سبب جوړ شوی دی. ۲ مالِک خُدائ ته راوګرځئ او د
خپلو ګناهونو اقرار وکړئ، او هغهٔ ته ووايئ، "زمونږ ټول ګناهونه معاف کړه او رحم
وکړه او مونږ قبول کړه چې مونږ ستا ثناء صِفت سره تا ته قربانی پېش کړُو. ۳ اسور
مونږ نهٔ شی بچ کولے او نهٔ مو جنګی آسونه حِفاظت کولے شی. مونږ چې کوم بُتان
جوړ کړی دی هغې ته به هيڅکله نهٔ وايو چې تاسو زمونږ معبودان يئ. ځکه چې صرف
هم تهٔ، مالِک خُدائ په يتيم باندې رحم کوې."

## د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو سره د نوی ژوند وعده

۴ بيا مالِک خُدائ فرمائی، "زهٔ به د هغوئ بې‌وفائی ختمه کړم او شفا به ورکړم. زهٔ به
د زړهٔ د اخلاصه د هغوئ سره مينه کوم، زهٔ هغوئ ته نور غصه نهٔ يم. ۵ زهٔ به د بنی
اِسرائيل دپاره د پرخې په شان يم. زهٔ به هغوئ لکه د نيلوفر ګل و ګلزار کړم، د لبنان د
دِيار د ونو په شان به يې جرړې مضبوطې وی. ۶ د هغې ښاخونه به خورې شی لکه د
زيتون د ښائسته ونو په شان. د هغې خوشبو به د لبنان د دِيار د ونو په شان وی. ۷
زما خلق به يو ځل بيا زما د سورې لاندې اوسيږی. هغوئ به لکه د غلې په شان لوئ
شی، او د انګورو د بوټی په شان به ګلونه نيسی. د هغوئ مشهورتيا به د لبنان د ميو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان وی. ٨ اے بنی اِسرائیله، د بُتانو نه ځان لرې ساته. هغه زهٔ یم چې ستاسو د
دُعاګانو جواب درکوم او ستاسو خیال ساتم. زهٔ د هغه ونې په شان یم چې همېشه شنه
وی، ستاسو ټولې مېوې زما د طرف نه دی.“

## آخری خبره

٩ هر څوک چې هوښیار وی نو هغه دې په دې خبرو باندې پوهه شی او په خپلو
زړونو کښې دې ځائ ورکړی. د مالِک خُدائ لارې صحیح دی او صادقان خلق په دې
روان وی، خو سرکشه به په دې لارو تیندک وخوری او ویه غورزیږی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.